Afghanistan Digital Library

adl0689

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 1 of 22



بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامنامهٔ د محصول مال مواشي

## مقدمه

هر کله چه په افغانستان کښې محصول د مواشي
راز راز په ډیرو قسمونو سره اخستل کیده،
مثلاً محصول د زکوٰة، طرق، علف چر، باج سیخ
شاهیګي، ټکټ د زکوٰة، سررمه‌ګی، سرګله‌ئي،
غوړی، معمولی کرت، سرکانه، چکانه
سره له دی محصولاتونو، تکالیف هم
لکه حواله د خریداری د جوال، تغر، ځل، نوار، ورې

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 2 of 22



ریښمه ، توبره ، باسلیق ، آس ، اوښ ، خر ، چه
دولت ته کار ورلودل ، په زکوة او د رعیتو په مال
باندې ریزش کیدل الاقراره وریزش اخستل
کیدل ، او هم هغه محصولونه چه لپاره د
مواشی اینبودلی شوی وه ، په یو قوم په یو قرار
سره ، په بل قوم په بل قرار سره کم او زیات محصول
مقرر وه ، بعضی خدا ناترسه حاکمان او کارداران بلکه
شخصی نوکران د دوی چه له یو ځای نه بل ځای ته
به تلل ، خپل خرڅونه به ئې په نوم د سورسات ،
بارګیری او سورلی خپله به ئې په نوم د (اُلُو) رعیتو
نخه اخستل ، او لپاره د هری وجهی ځانته عامل
او ضابط ، او لپاره د تحویل او حاصلولو د هغو دیر محصولاتو
مقرریدل ، دا قاعدی سبب د تکلیفونو او زحمتونو
د مالدارانو کیدلی .
لپاره د دی خبری بنا پر آسوده حالی د رعایا دفعه

رعیتو د شاهانه تجا هغه تول تکلیفونه او
زحمتونه ورك كړل، یو محصول په نوم د محصول
د مواشي سره په تولو مالدارانو د افغانستان باندې
بې له استثنا او ولیتلو د قومیت او شخصیت څخه
کېښوده، ترڅو چه سم له دې نظامنامې سره
له کړه مالدارانو نه په تمام ملك د افغانستان
کښې هغه محصول په تیم د مساوات سره برابر واخسته شي،
چه هیڅ یو له هغه محصوله څخه له قلمه وته شي او یو یل
هغه څوك چه یو مال مواشي ولري هم مالدار
باله شي او محصول پرې کېږي، او محصول د
مال مواشي له نر او ښځې، له وړو او غټو د څلورو پایو
بې له استثنا یو برابر اخسته کېږي.
(۱):- ترل د محصول د څارپایانو چه قرارداد په لسو
یو یا په لسو دوه، عهده داران یا قریه داران
یا قبیله داران به بې له شماره څخه د دفترو د پادشاهي

ته تولداره کیدل، له رعیتیو څخه به ئی جبراً
په زور سره بی له شماره زیاد له حقه ایښ
اخستل، موقوف کړه شول، چه پس له دی
بی له قاعدی د دی نظامنامی محصول وانه خستل
شی .

(۲):- هغه هیڅتونه چه لپاره د شمار د مال مواشو
مقرریږی، له دی کسانو څخه چه لاندی
بیانیږی، جوړیږی .

(الف):- په علاقه داریو او حکومتیو کښ، تر
اولی درجی خیله علاقه دار او د هغه
ځای حاکم، سره له یو کس وکیل
منتخبه د مجلس مشوره د هغه، او
کاتب د مالیې او له دوه تر څلور کسو
پوری سپین ږیری له استیلنکو د
قریې څخه .

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 5 of 22



(ب):- په مرکزو د لویو او اعلی حکومتیو
او نائب الحکومگیو کښ، د لویو او اعلی
حاکمانو او نائب الحکومگانو له خوا،
سر کاتب د مکتوب نویسی د دوی
او دوهمه منتخبه وکیلان د هغه،
او سر کاتب د جمع وخرچ د مرکزی
او له دوه تر څلورو کسو پوری
سپین ږیری د قرلئ.

(۳):- وقت د شمار د چارپایانو له اوله د حوت نه
تر آخره د اسد پوری په مناسبت د وقت د
لنګوال د همغه ځای سره مقرر شه، چه پس
له لنګیدلو د چارپایانو څخه په شمار باندی
شروع، او تر آخره د اسد د پوری باید پوره او
کامل شی.

(٤):- هیئت د شمار هر یوی قرلئ او قبیلی ته به

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 6 of 22



درځي چارپایان به شمیری، کاتب د شما
به فی الفوره تمم او حساب د چارپایانو او
مقرری محصول د هر سری به له جزو سره په
کتاب د انوانتر خصوصي کښي داخلوی
په آخر د هري ورځ کښي به ئي میزان کوی،
او مبلغ د محصول به په فارسي عبارت سره
لیکی، هیئتونه د شماریه په هغه کتاب د
انوانتر کښي امضا او دستخط کوی.

(ه): لپاره د داخلولو د محصولونو د مواشي دوه
توپه ئي ټکتونه هیئتونو د شمارخه موجود
دی، اوله توپه به رئیس د هیئت د شمارش
له کاتبانو د مالیئ متعلقه د هغه امضا
کوی، په مخ د هیئت کښی محصول ورکونکو
اسامیوته ورکوله کیږی، وجهه
د محصول نقل ده آخستی د هغه مال مواشي

کاتبانو ته سپارله کیږی.

د دویمه نوبته، چه د اوّلی توتی ثبت او شیرازه
د کتاب پوری تړلی دی رئیس د هیئت برے
سره له نورو اعضا په اتفاق سره امضا
کوی.

(٦):- کړ رئیس د هیئت د شمار، او کاتب چه مامور
د تحویلي د وجهی دی، محصول ئی نقدینه و
اخستی، نسیه او پورئ پرینښی وی، له مامور
څخه طرد او تعزیر کیږی، او که د او وجهه
د محصول له ښنبستنو د مال څخه حصول نه شي
تلف شوی مبلغ له رئیس د هیئت او کاتب
د مامور د تحویلي د شمار څخه په قرار د ریزش د
تنخواه د دوی سره آخستلی او د حکومت په
خزینه کښ تحویلاوه شی.

(٧):- مال مواشی چه په هر کال کښ شمیرل،

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 8 of 22



او محصول د دولت له مالدار سړي څخه
اخستل کیږي، هرکله چه هغه
مال مواشي چه محصول یې کیږي،
په منځ د کال کښې سقط یا ورک شي مجرائي
نه ورکوله کیږي، البته په راتلونکي کال کښې
په نوي شمار کیږي.

که مالدار سړی، خپل مال مواشي چه په
حساب پنځوس سره مال وي، یا زیاد له پنځوس
سره څخه وي په هغه کال کښې یې په بل سړي
باندې خرڅ کړي لازم او ضرور دی،
چه سره له خریدار سړي، د هغه ځای ماموریت
خپل ته ورشي، د هغه ځای له ماموریت
څخه، هغه خرڅ شوي مال مواشي د دفتر
د حساب، او د مال شماري د ټکټ له مخې
د پخواني مالدار له جمع څخه وضع، او خریدار ته

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 9 of 22



تکټ ورکوشی، په ملاحظات د دفترخېل کښې
به ئې لیکی .
په موجب د دی تکټ د مال مواشی، چه پښتوانی
مالدار د هغه په همغه کال کښې محصول ورکړیدلے
خرید او وله نور محصول د مواشی د دی کال څخه
معاف دی .

(۸):- محصولونه د مال مواشی له رعیتیو د دولت
څخه په دی قرار آخستل کیږی، چه
لاندی بیانیږی:-

اوښ، اوښنه هریو دری افغانۍ ـــ ۷۰ پول
آس، آسپه، کچر، کچره هریو یوه افغانۍ ـــ ۸۰ پول
غوا، غوایئی، سنډه، میښه ـ هریو ـــ ۹۰ پول
خر، خره ـ هریو ـــــــ ۹۰ پول
پسه، میږه، وز، وزه؛ هر یو ـــ ۲۵ پول

(۹):- په حساب د چارپایانو د مالدارانو کښی چه

په حضور د هیئتونو د شمار شمیرل کیږي
هر کله چه تفاوت ظاهر شي، له څښتنو
د مال تخنه سیاستنا یو په دوه محصول د هغو
مالونو چه خیانت او چشم پوشي په کښې شویدي
اخستنه کیږي، او هیئتونه د شمار رسم له
(۳-۳-۳) قاعدی د نظامنامې د جزای عمومي
سره جزا ور کوله کیږي.

(۱۰):- هغه مالداران چه مال مواشي خپل پټوي
د شمار کښې پټ او شمیرلو ته ئې حاضر نکړي
یا هیئتونه د شمار په محصول د مال مواشي د
هغو کښې چشم پوشي وکړي، هغه څوک
چه هیئتونو د شمار ته د دی پته ولو، یا په صورة
د خیانت د هیئتونو د شمار کښې مافوق الامرونو
د دوی ته خبر ورکړي د مال مواشي له
څښتنو څخه چه په مال د دوی کښې تفاوت آ

خیانت شوی دی سیاستاً یو یه دوه
محصول آخستنه کیږی، بیائی په شان د
انعام دپوټ چی ته، او بیائی خزانه د حکو
مت ته تحویلیږی ؛ او هیئتونو د شمارنی سیمه له
سنه ۱۳۰۶ (۲۳۳) قاعدی د نظامنامی د جزای عمومی
سره جزا ورکوله کیږی .
(۱۱):-که محصولونه د مال مواشی د سږکال
نسبت و محصولونو ته د تیرو کلونو کښی
او کمبود وکړی، هیئتونه د شمار به
تحقیق کوی، که دا کمبود نتیجه د یو عمومی
آفت دی، لکه تلف کیدل د چارپایانو
او نور آسمانی سببونه، هیئتونه د شمار به
نتیجه د تحقیق خپل، سره له موجبه سببونو د
کښی بیلی بیلی مافوق آمر خپل ته خبر ورکوی
او که دا کمی و نقصان یو عام موجبه سبب نلری

هیئت د شمار د علاقه داریو، لویو حکومتیوته
او هغه هیئتونه د شمار چه له اوّلی، او دوه یمی
او دریمی نمبر حکومتیونه څخه مقرر وی، ولایتو او اعلی
حکومتیوته، همداسی رنګه هغه هیئتونه چه د لویو حکومتیو څخه
مقرریږی، ولایتو او اعلی حکومتیوته خبر ورکوی،
مافوق آمران د دوی به پس له کتلو د کسر
د محصول، په هغه صورت کښ چه کسر له
لسی برخی د محصول د تیر کاله څخه اضافه
وی، یو هیئت تفتیشیه به د پلټنی لپاره
مقرره وی، دا هیئت به، په پلټنه باندی
شروع کوی، نتیجه به هغه ځای ته چه
له هغه ځایه مقرر شوی دی وړاندی
کوی، هغه هیئتونه د شمار د علاقه داری
چه څخه په سرسوره ولایتو او اعلی حکومتیو
پوری تړلی دی نتیجه د شمار خپل په جمله

دشهریه حسابونو خپلو کښ په هغه قرار
سره چه په عنوان د دی مادی کښ ښکاره
دی په ځان سره به ئې ولایت او اعلی حکومت
خپل ته خبر ورکوی ·

(۱۲):- که جمع محصول د مال مواشی، نسبت د
تیرو کلونو ته ډیر کسر او کمبود
وکړی، وزارت مالیه په چاره کولو
د هغه سره مجبور دی ·

(۱۳):- حوالی د غل جوال، وړی، پښه، آس، خرڅلاوی
د معمولی غوړیو، کوټ، تغړه نوار، سنی، رشمه
توبره، پاسلیق، اوبښ، غو، او نور شیان موقوف
دی، دولت هغه شیان چه ئې پکار وی، په
خوښه او رضا په نرخ د هغی ورځی خریداری کوی
هیچا ته اجازه نشته چه په حواله سره څه شی
داخلی یا ئې په جبر او زور سره خریداری کړی

اوکه ئې په حواله یا په خریداري د وزو سره
آخستي وه او ښکاره شه په قرار د نظامنامه
د جزا سره سزا ویني .

(١٤) – هیئتونه د شمار، حسابونه چیل به له جزو سره
میاشت په میاشت هغې ادا وي ته چه ورتوړے
ترلي دي، لیږي د رسید به اخلي، وجه د تحصیلونو
به په لسمه او شلمه او آخر د میاشتې، پوره په
خزانه کښې تحویلوي، رسید د اخلي، او که په دے
درخو کښې د دغې د عمومي رخصتي پیښې شي، یوه
ورځ ورپسې له هغه نه به ئې خزانه کښې تحویلوے
که مامور د تحویلي د هغه وجهه د محصولاتو ئې
سم له حکمه د دې سره په خزانه کښې نه وي
تحویل کړي له ماموریته څخه معزولیږي

(١٥) – هغه شیان چه خریداري د هغو په وقت د جنګ
کښې شوي دي په موجب د مستقلې فرمان د

پادشاهی په قرار د نرخ روزنئ جنساً دولت آخلی، او قیمت د هغه په وقت د حساب کښ مجرا ورکوی.

(۱۶):- مال مواشی د هر ځای، په همغه ځای کښ په حضور د هیئتونو د شمار شمیرل او آخستل. د محصول د هغه نقل کیږی، او که بعضی کله دی مالدار په بوځای کښ مال دده حساب شوی وی او رسید د محصول ئی آخستی وی، او بل ځای ته خو ځیدل او کرځیدل کوی، په دی سړی باندی نور هیڅ تکلیف نشته همغه سند چه په امضا د هیئتونو د شمارئی آخستی دئی لیده او قانونی سند شمیره کیږی.

(۱۷):- که بعضی رمه داو چه شمار د رمی د ده له بخوس ... تخنه زیاد وی، به یو کال یو ځای کښ

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 16 of 22



سیاهه د مواشي د هغو داغلي وي، او په داتلونکي کښې کلوکیښ، بل ښځای ته خیال د داتمي تللولوي باید چه مدیر د مالئي ځیل ته د خبر ورکړي او خط د واخلي .

(١٨):- هغه مالدار چه دائمي بل ښځای ته ورشي، خط د مدیر د مالئي د پخواني ښځای ځیل د، مدیر د مالئي د هغه ښځای ته چه نوي ورغلي دی، ور رسوي .

(١٩):- هر مالدار چه له یو ښځای نه بل ښځای ته په طور د دائمي سره ځي، لازم چه مدیر مالئي د پخواني ښځای ځیل ته د خبر ورکړي، تر ځو چه مدیر د مالئي د پخواني ښځای د ده، مدیر د مالئي د هغه ښځای ته چه هوس ورشي اطلاع ورکړي چه با خبر دی .

(٢٠):- هر مالدار چه له مدیر د مالئي ځیل څخه خط د تللو د بل ښځای ځیل اخلي، که مدیر د

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 17 of 22



مالئی خیل څخه خط د تللو د بل ځای خیل آخلي
که مدیر د مالئی د نوی ځای خیل ته ئی ونه
رسوی، یا په منځ د لاره کښی ځان پټ کړی،
پس له نیولو او تحقیق څخه، محصول د مواشی
د هغه یو په دری آخسته کیږی.

(۲۱):- په خصوص د (اُلَو) کښی چه کاردار اتوله
په منځ د لاره کښی په زور سره آخستل
بالکل موقوف شو فقط په هغه وقت کښی
که کم لوی کار چه په هغه کښی عمومی
نا ملائمه وی پیښ شی، په موجب د دستخطی فرمان
د اعلیحضرت همایونی به حواله او اجرا
کیږی.

(۲۲):- هغه کسان چه محصول د سرخانه ئی او
اصناف او آسیابی او کانړی (جواز) د دولت
ته ورکوی، هیڅ ستونه د شماریه سم له

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 18 of 22



(٢) مادی دِ دی نظامنامی سره محصول آخلی شی
(١٤) قاعدی د دی نظامنامی حسابونه د هغو
به سره لەجزو ماهواری خپلی مربوطه ادارے
ته لیږی.

(٢٣) محصول د سرخانه ئی او آسیابی او اصنافی
او کانړی د هر ځای، په وقت د شمار د دی
قانون کښی د حساب، او په قرار د مقرری
بست د هغه ځای نقل آخست کیږی،
او که منځ د کال کښی تغیر او تبدیل
پیدا کړی، مجری نه ورکولی کیږی
او لپاره د نوی کال شمار د تیر کال، بست
نه کانه شی، او په وقت د شمار کښی
نوی شمار کیږی.

(٢٤) هغه کسان چه له یو ځای نه بل ځای
ته په قسم د دائمی سره ځی، که په

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 19 of 22



ځای کښې چه ورغلی دی سرخانړئ مقرری لري هم
بستر د مقررۍ د همغه ځای چه نوی ورځی محصول هم
سرخانړئ له دوی څخه آخست کیږي، او که دغه ځای ته
چه ورغلی محصول د سرخانړئ مقرره وي نو
د محصول د سرخانړئ څخه معاف دی.

(۲۵):- له نورو قره قلی وریو څخه چه لپاره د پوستین
وژل کیږي، محصول د مال مواشي
نه آخست کیږي معاف دی.

(۲۶):- د دفتری د محال یا مدیره مالیي سم له هغو
مادو سره چه په دی نظامنامه کښې ذکر
بیان شوی دی غیر له (۱۲) او (۱۵) او (۲۰)
او (۲۱) قاعدی چه مخصوص د مال مواشي
دی، په باب د شمار د سرخانړئ او اصناف
او آسیابی او ګانړی د مراعات او
اجرا کیږي.

http://hdl.handle.net/2333.1/8w9ghxnp Image 20 of 22



(۲۷): په هر کلی چه زکوة شرعی کاوری بنا پر دا هغه
مالداران چه زکوة پری واجب وی پر رسولو
د هغه د کوشش او ډیر احتیاط کړی.

(۲۸):- په داخلول او اجرا کولو د دی نظامنامی
سره په نظامنامو د دولت کښی امر او اراده
کوم

(۲۹): حکمونه د مادو د پخوانی نظامنامی د
محصول مواشی او په هغو باندی کا
او عمل کول پس له رقته د خودکیدلو
د دی نظامنامی څخه متروک او منسوخ
دی. (۲۰) ثور سنه ۱۳۰۶